**امارت اســــــلامی افغانســــــتان**

**وزارت ارشـــاد، حج واوقاف**

**ریاست ارشاد وانسجام امور مساجد**

**آمریت ارشاد ودعوت**

**مدیریت عمومی تنظیم خطبه ها**

---

**دجمعې د خطبې لاربنود مؤرخ: 1443/3/1هجری قمری مطابق 1400/7/16هجری شمسی**

## دافغانستان داسلامي امارت څخه ملاتړ او حمایت

الحمدلله الذی أرسل رسوله بالهدی ودین الحق لیظهره علی الدین کله وکفی بالله شهیدا وأشهد أن لآاله إلاالله وحده لاشریک له اقراراًبه وتوحیداً وأشهد أن محمدا عبده ورسوله صلی الله علیه وعلی آله واصحابه وسلم تسلیماًکثیرا.

امابعد:

قال الله سبحانه وتعالی: {یا أیها الذین آمنوا أطیعوا الله وأطیعوا الرسول وأولي الأمر منکم}النساء: 59.

ژباړه: ای هغه کسانو چې ایمان مو راوړی دی! د الله تعالی اطاعت وکړئ او دهغه د رسول اطاعت وکړئ او دهغه چا اطاعت وکړئ چې په تاسو کې د واک څښتنان دي.

دالله تعالی له پیرزونو څخه یو هم د اسلامي نظام شتون دی او –لله الحمد– نن ورځ زموږ په هیواد کې د اسلامي نظام ممثل دافغانستان اسلامي امارت دی چې په ګران هیواد کې حاکم دی.

بناءً دافغانستان په هر وګړي لازم دي چې دالله تعالی ددې نعمت شکر وباسي او دافغانستان داسلامی امارت څخه هراړخیز حمایت اوملاتړ وکړي؛ ځکه په ګران هیواد کې د اسلامي نظام رامنځ ته کول او په دې لارکې هلې ځلې کول او داشغال په مقابل کې مقدس جهاد دټولو دنده وه او دهر فرد فریضه وه اوس چې اشغال له منځه تللی اودافغانستان اسلامي امارت دنظام په توګه په خاوره کې حاکم دی؛ دافغانستان اسلامي امارت څخه ملاتړ او حمایت هم دهر افغان اسلامي وجیبه ده.

داسلامي لاربنوونو اوبین المللي قنوانینو له مخې دبشري ټولنې لوړوالی او پرمختګ په څلورو خبرو کې نغښتی دی:

۱– دنظام شتون؛ داسلام مقدس دین دټولنې دبقا لپاره دداسې نظام په شتون تاکید کوي چې په کې هر ډول استقرار اوارامش په کې موجود وي.

۲– د زمکې څخه سالمه استفاده.

۳– د وخت څخه سالمه استفاده.

۴– دپوهه او وړو او متخصصو اشخاصو څخه سالمه استفاده.

**ددولت ماهیت او حقیقت:**

دولت یا نظام دهغه انساني اجتماع څخه عبارت دی چې دزمکې پرمخ په یومعین ځای مستقروي کې او دیو حاکم سازمان څښتنان وي.

که چیرې ددولت او نظام تعریف ته ځیر شو دولت په درې عناصرو ولاړ دی:

۱– جمعیت یا رعیت: داځکه چې دولت پر ته له انساني اجتماع څخه منځ ته نشي راتللی.
۲– دزمکې په معین ځای کې استقرار: له دې څخه دزمکې دسر هغه برخه مراد ده چې دمرزونو په واسطه محدوده شوې وي.
۳– حکومت: له دې څخه هغه دقدرت اعمال کوونکی سازمان مراد دی.
لله الحمد– دافغانستان اسلامي امارت ددولت دټولو عناصرو هریو: جمعیت، زمکه اوحاکم نظام دی چې په هره برخه کې پوره واک او سلطه لري داهر څه ددې دلیل دی چې دافغانستان اسلامي امارت یو مشروع نظام دی او باید چې ددې نظام څخه هر اړخیز حمایت وشي او ددې نظام له زمامدارانو سره په هره برخه کې مرسته کول پر رعیت واجب دي.
په دیني نصوصو کې څو دوله کلمې د اسلامي زعیم او حاکم لپاره کارول شوی دي لکه: ولي الأمر، امام، سلطان چې د ټولو څخه هغه شخص مراد دی چې ددولت د اموراتو مسئولیت ئې په غاړه وي.
نو ویلی شوکله چې په ګران هیواد افغانستان کې د ټول دولت او رعیت دکارونو تدبیر او کنټرول دافغانستان داسلامي امارت له خوا ترسره کیږي اودافغانستان اسلامي امارت ته دټولو کړنو اواوضاعو سلطه حاصله ده او داسلامي نظام ټول معتبرشرعي معیارونه ئې پوره کړي دي پرملت واجب دي چې دافغانستان داسلامي امارت څخه خپل ملاتړ او حمایت وکړي اوله اوامرو ئې پیروي وکړي.
همدا رازکله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو اکابرو صحابه کرامودرسول الله صلی الله علیه وسلم د تجهیزاو تدفین څخه مخکې داسلامي نظام داسقرار په هدف ابوبکر صدیق رضی الله عنه سره بیعت وکړ.
چې دا کار داسلامي نظام دبقاء او دنظام څخه پر حمایت دلالت کوي.
دې اصل ته په کتو سره دافغانستان داسلامي امارت مجاهدینو دېرديو داشغال په مقابل کې مسلحانه مبارزه پیل کړه آن تر دې چې فتحه ئې ترلاسه کړه او په افغانستان کې یې اسلامی امارت حاکم او یو ځل بیا په پښو ودرولو او دملت خوبونه ئې په رښتیا بدل کړل نو اوس چې په افغانستان کې اسلامي امارت حاکم دی دافغانستان داسلامي امارت څخه حمایت او دفاع په هر افغان لازم دی.
**د اولي الأمر(پادشاه) اطاعت واجب دی**
داسلامي نظام د قائمولو لپاره هڅه او هاند، سعی او کوښښ د هر مسلمان له وجائبو څخه ده او په هر مسلمان لازم دي چې په دې لاره کې جدوجهد وکړي.
اوس چې په افغانستان کې اسلامي امارت حاکم دی بیا دټولنې پرټولو افرادو داسلامي نظام څخه حمایت او ددې دامیر اطاعت فرض دی؛ ځکه دامیر اطاعت په حقیقت کې د اسلامي نظام او اسلامي ټولنې سره مرسته ده چې دا کار له نظام څخه حمایت ګڼل کیږي دا په دې معنا چې ولي الأمر هغه څوک دی چې داسلامي نظام ساتنه کوي.
په همدې اساس شریعت؛ داسلامي حاکم په اطاعت او داسلامي نظام په حمایت امر کړی دی.
الله تعالی فرمایلي دي: {یا أیها الذین آمنوا أطیعوا الله وأطیعوا الرسول وأولي الأمر منکم}النساء: 59.
ژباړه: ای هغه کسانو چې ایمان ئې راوړی دی! دالله تعالی اطاعت وکړئ او دهغه د رسول اطاعت وکړئ اودهغه چا اطاعت وکړئ چې په تاسو کې د واک څښتنان دي.
عبدالله ابن عباس رضی الله عنه فرمایلي دي: په دې آیت کې د "أولي الامر" څخه امیران او حاکمان مرادد‌ي.
امام ماوردي ددې آیت په فاظده کې لیکلي دي: (ففرض علینا طاعة أولي الأمر فینا وهم الأئمة المتأمرون علینا). الأحکام السلطانیة.

ژباړه: ددې آیت په بناء د اولوالامر اطاعت پر مونږ فرض دی او (اولوالأمر) هغه څوک دي پر مونږ دي.

دپورتني دلائلو په رڼا کې دافغانستان داسلامي امارت تابعداري او حمایت ددې خاورې په هر فرد باندې فرض او لازم دی.

همدا راز بې شمیره صحیح حدیثونه د اولی الامر په اطاعت امر کړی دی.

په یو حدیث کې راځي: (السمع والطاعة على المرء المسلم فيما أحب وكره ما لم يؤمر بمعصية فإذا أمر بمعصية فلا سمع ولا طاعة). متفق عليه

ترجمه: پر مسلمان د اولو الامر خبره اوریدل او اطاعت لازم دی په هغه څه کې چې خوښ ئې وي یائې خوښ نه وي تر څو چې اولو الامر په ګناه باندې امر نه وي کړی کله چې په ګناه امر وکړي بیا خبره اوریدل او اطاعت ئې نشته.

په یوبل حدیث کې داسې راغلي دي: عن أنس قال قال رسول الله –صلى الله عليه وسلم–: واسمعوا وأطيعوا وإن استعمل عليكم عبدٌ حبشيٌّ). متفق عليه

ترجمه: واورئ خبره دحاکم او اطاعت ئې وکړئ اګر که پر تاسو حبشي غلام حاکم وي.

دابوهریره رضی الله عنه حدیث داسلامی حاکم په اطاعت تاکید کوي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ خَرَجَ مِنَ الطَّاعَةِ وَفَارَقَ الْجَمَاعَةَ مَاتَ مِيتَةً جَاهِلِيَّةً) متفق عليه

ترجمه: څوک چې دامام له اطاعت څخه ووتلو او دمسلمانو له ډلې جدا شو (اوبیا مړشو) دده مرګ به د جاهلیت دزمانې دمرګ په څیر وی.

په یوبل حدیث کې د امام په حمایت او عزت باندې تاکید شوی دی: عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: (السُّلْطَانُ ظِلُّ اللَّهِ فِي الْأَرْضِ، فَمَنْ أَكْرَمَهُ أَكْرَمَ اللَّهَ، وَمَنْ أَهَانَهُ أَهَانَهُ اللَّهُ) السنة لابن أبي عاصم

ترجمه: ابوبکره رضی الله عنه فرمایلي دي ما درسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلی دي چې داسې ئې وفرمایل: بادشاه د زمکې پر مخ دالله تعالی درحمت سیوری دی چاچې د بادشا عزت وکړ الله تعالی به دده عزت وکړي او چاچې دبادشاه اهانت وکړ الله تعالی به دداسې شخص اهانت وکړي.

پورتني نصوص په افغانستان کې د حاکم اسلامي نظام د حمایت او ورسره مرسته کولو په برخه کې صریح دلیل دي.

دافغانستان اسلامي امارت څخه حمایت په هیواد کې دامنیت دټینګښت او پیاوړتیا ضامن دی او ددې نظام څخه حمایت نه کول په وطن کې دفساد، هرج مرج او د اجتماعي کړکېچ باعث ګرځي چې زیان ئې ملت ته ورګرځي.

**دافغانستان داسلامي امارت پرخلاف هرډول خروج مردود دی.**

لکه مخکې مو چې وویل دافغانستان اسلامي امارت داسلامي نظام دټولو معیارونو درلودنکی نظام دی اوپه ټولو اوضاعو پوره کنترول لري.

داچې دافغانستان اسلامي امارت یو شرعي نظام دی ددې نظام حمایت او اطاعت پر هیوادوالو فرض دی او دحاکم نظام په مقابل کې هر ډول مخالفت ددې نظام څخه دخروج معنا لري چې شرعا مردود او حرامه کړنه ده.

دامام په مقابل کې خروج په حقیقت کې دمسلمانانو دټولنې څخه دهمکارۍ اومرستې څخه لاس اخیستل دي؛ ځکه امام اوحاکم هغه څوک دی چې دټولنې خلک وربانديې راټول دي او دمسلمانو دټولنې سرپرستي کوي.

هو! په دې سختو شرائطو کې چې اسلامي امارت ورسره مخ دی ممکن ځینې اجتماعي یا اقتصادي مشکلات به موجود وي؛ ولې دا مقطعي مشکلات هیڅ کله د نظام دمخالفت لپاره دلیل کیدای نشي.

د ولي الأمر داطاعت په اړه داهل السنه والجماعه علماء داسې وائي: (ذهب الجمهور من أهل السنة إلى عدم جواز

الخروج على الإمام الجائر، لما يترتّب على الخروج على السلطان من المفاسد الكثيرة من سفک للدماء، وزهق للأرواح ونهب للأموال، واستحلال للمحارم، بل في الصبر على جورهم تكفير للسيئات، ومضاعفة للأجور). [أصول الدين عند الإمام أبي حنيفة رحمه الله]

ترجمه: داهل سنت والجماعت جمهورو علماؤ نظر دادی چې دظالم پادشا په مقابل کې خروج او قيام جواز نلري؛ دا ځکه چې دسلطان په مقابل کې خروج له ځانه سره زيات مفاسد لري؛ لکه ويني توئيدل، دخلکو وژل، د مالونو چور او چپاول او محارمو حلال ګڼل؛ بلکې د حاکمانو په ظلمونو باندې صبر کول دګناهونو د رژيدلو او دثوابونو زياتوالي سبب ګرځي.

البته که چيرې څوک دافغانستان داسلامي امارت د پاليسيو او کړنو په اړه متفاوت نظر لري، چې داسې اشخاصو لره په کار ده چې دصبر او تحمل څخه کار واخلي او داصولي لارو څخه خپل نظر داسلامي امارت سره شريک کړي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: (من رأى منكم من أميره شيئا يكرهه فليصبر عليه). متفق عليه

ترجمه: چاچې دخپل امير څخه داسې څه وليدل ورته بد ښکاره کيدل بايد صبر ورباندې وکړي.

په بل حديث شريف کې راځي: (عن ابن عمر أن النبي –صلى الله عليه وسلم– قال: من نزع يداً من طاعةٍ فإنه يأتي يوم القيامة لا حجة له ومن مات وهو مفارقٌ للجماعة فإنه يموت ميتة جاهلية). متفق عليه

ترجمه: له ابن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دی: چاچې( دامام) داطاعت څخه لاس واخيست دقيامت په ورځ به راشي او هيڅ حجت به ورسره نه وي او څوک چې په داسې حالت کې مړ شو چې دمسلمانانو له ټولنې څخه جداشوی ؤ دده مرګ دجاهليت دزمانې دمرګ په څير دی.

په يوبل حديث شريف کې راځي: (قَالَ دَعَانَا النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم فَبَايَعْنَاهُ فَقَالَ فِيمَا أَخَذَ عَلَيْنَا أَنْ بَايَعَنَا عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي مَنْشَطِنَا وَمَكْرَهِنَا وَعُسْرِنَا وَيُسْرِنَا وَأَثَرَةً (وأثرة) عَلَيْنَا وَأَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ إِلَّا أَنْ تَرَوْا كُفْرًا بَوَاحًا عِنْدَكُمْ مِنَ اللهِ فِيهِ بُرْهَانٌ). صحيح البخاري

ترجمه: دعباده بن صامت رضی الله عنه څخه روايت دی چې مونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم بيعت ته را وغوښتو مونږ ورسره بيعت وکړ په هغه بيعت کې داخبره هم ده چې مونږ به بيعت کوو دامير څخه په سمع او اطاعت سره که مونږ ورباندې خوښ يو اوياخوښ يو، په سختيو کې اوپه راحت کې او دبل چا په غوره والي او بل داچې دحاکم سره دهغه په کار کې ورسره نزاع او مخالفت نه کوو مګر داچې روښانه کفر ورڅخه ووينۍ اوتاسو سره دالله تعالى له طرفه په کې دليل موجود وي.

اوس چې ټول هيوادوال افغانستان داسلامي نظام ترسيوري لاندې را ټول دي هرنوع مخالفت ددې نظام دکمزورۍ لامل ګرځي او اسلامي ټولنې ته زيان رسيږي چې دا کار هيڅ جواز نلري.

په همدې بناء امام علي بن مديني رحمه الله چې دخپلې زمانې لوی محدث او دامام بخاري استاذ ؤ فرمايلي دي: (ومن خرج على إمام من أئمة المسلمين وقد اجتمع عليه الناس فأقروا له بالخلافة بأي وجه كانت برضا أو بغلبة فهو شاق هذا الخارج عليه العصا، وخالف الآثار عن رسول الله صلى الله عليه وسلم فإن مات الخارج عليه مات ميتة جاهلية ولا يحل قتال السلطان ولا الخروج عليه لأحد من الناس فمن عمل ذلک فهو مبتدع على غير السنة).

ترجمه: څوک چې دمسلمانانو دپادشا په مقابل کې قيام وکړي په داسې حال چې مسلمانان ورباندې راټول وي اودهغه حکومت يې منلی وي په هره طريقه چې وي د رعيت په رضايت وي او که په غلبه وي نوداسې شخص دمسلمانانو دامسا ماتوونکی دی او د رسول الله صلى الله عليه وسلم داحاديثو مخالف دی؛ که چيرې داسې شخص مړ شو نودده مرګ دجاهليت د زمانې دمرګ په څير دی او دهيچا لپاره دمسلمان دپادشاپه مقابل جنګ کول جواز نلري او دهغه په مقابل کې خروج هم جواز نه لري که چا داکار وکړ هغه مبتدع دی اوداهل السنة په مذهب نه دی.

قاضي عياض رحمه الله دمسلمانانو په اجماع په دې خبر رانقل کړی ده او فرمائې: (وأما الخروج عليهم وقتالهم فحرام بإجماع المسلمين وإن كانوا فسقة ظالمين). [مرقاة المفاتيح]

دمسلمانانو دعلماؤ په دې اجماع ده چې دمسلمانانو حاکمانو په خلاف خروج کول حرام کار دی اگر که حاکمان فاسقان او ظالمان هم وي.

امام نووي رحمه الله فرمايلي دي: (أجمع العلماء على وجوبها. أي طاعة الأمراء. في غير معصية). شرح النووي على صحيح مسلم علماؤ په دې اجماع ده چې د معصيت له موارد و پرته دحاکمانو اطاعت واجب دی.

دافغانستان داسلامي امارت نظام چې دپياوړو علماؤ څخه متشکل دی اوداسلامی امارت په رأس کي؛ اميرالمؤمنين چې دهيواد ستر عالم او شيخ الحديث دی قرار لري اود دهيواد دعلماؤ د رای په اساس دامير په توگه ټاکل شوی دی دداسې نظام په مقابل کې خروج او نافرماني په طريق اولی سره خورا بد او حرام عمل دی.

## دافغانستان داسلامي امارت په مقابل کې خروج بغاوت دی.

د شريعت له نظره دافغانستان داسلامي امارت په مقابل کې قيام او خروج بغاوت دی چې فقهاء ورته بغاوت وائې او په او سنۍ حقوقي اصطلاح کې ورته سياسي جرم ويل کيږي او سياسي مجرمينو ته باغيان يا بلواگر ويل کيږي.

داسلامي شريعت فقهاؤ سياسي مجرمين داسې تعريف کړي دي: ( باغيان هغه ډله ده چې دغلط او ناسم باور او فاسد تاويل له امله چې هغوی ئې شرعي دليل بولي دامام يادهغه دنائب په مقابل کې خروج او قيام کوي په داسې حال کې چې د قدرت څخه برخمن هم وي).

له دې تعريف څخه معلوميږي چې سياسي جرمونه دهغه اعمالو څخه عبارت دی چې مجرمين دخپل قدرت څخه په استفادې، دباطل اعتقاد په بناء اودشرعي دلائلو څخه په استدلال اگر که دنصوصو څخه استدلال په خطاء سره هم وي دجنگ مرتکب کيږي او هدف يې داوي چې مشروع نظام راچپه کړي ؛ خو که چيرې ددوی هدف دعامه نظم تخريبول وي بيا دبغاء نه؛ بلکې په زمکه کې فساد بلل کيږي.

په يو حديث شريف کې راځي: عن ابی هريرة رضی الله عنه من خرج من الطاعة وفارق الجماعه فمات ميتة جاهلية). مسلم

ترجمه: له ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی دي: څوک چې دامام له اطاعت څخه ووتلو او دمسلمانانو له جماعت څخه بيرون شو بيا مړ شو دده مرگ دجاهلت دزمانې دمرگ په شان دی.

په بل حديث کې داسې راځي: عن ابن عباس قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من رای من اميره شيأ يكرهه فليصبر فانه من فارق الجماعة شبراً فمات فميتته جاهليه). مسند احمد.

ترجمه: عبدالله ابن عباس رضی الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: چاچې له خپل امير څخه داسې څه وليدل چې دهغه خوښ نه ؤ بايدصبر ورباندې وکړي ؛ بيشکه څوک چې دمسلمانانو له ډلې څخه يو لويشت لرې ووتلو بيامرگ ورته پيښ شو نو دده مرگ دجاهليت مرگ دی.

## دافغانستان داسلامي امارت په مقابل کې خروج مفاسد او زيانونه:

دافغانستان داسلامي نظام څخه دسرغړونو اوخروج ځينې زيانونه او مفاسد په لاندې ډول دي:

**۱ـ داسلامي وحدت او يووالی له منځه تلل؛** دافغانستان داسلامي امارت له نظام څخه سرغړونه دمسلمانانو دصفوفو يووالی او وحدت له منځه وړي حال داچې داسلام مقدس دين خپلو پيروانو ته په يووالي او وحدت امر کړی دی او داسلامي نظام په تقويت ئې امر کړی دی او خلک يې دهر ډول تفرقې او اختلافاتو څخه منع کړي دي.

**۲- په ټولنه کې دنا امنیو پراخوالی؛** داسلامي نظام څخه دسرغړونه اوخروج په ټولنه کې هرج او مرج او ناامنیو دپراخوالي سبب ګرځي په داسې حال کې داسلام مقدس دین په ټولنه کې د امنیت په ټینګښت تاکید کوي او نن په ټول افغانستان کې داسلامي امارت له برکته قائم دی ددې امنیت له منځه وړل لویه ګناه دی.

**۳- په هیواد کې دبې سوادۍ او ناپوهۍ دکچې زیاتوالی؛** داسلامي نظام څخه دسرغړونه اوخروج په ټولنه کې د بې سوادۍ او ناپوهۍ دسطحې دزیاتوالي سبب ګرځي حال داچې داسلام دمقدس دین پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته لومړنۍ پیغام دعلم او پوهې ورکړی دی او دټولنې څخه د ناپوهۍ دتغږ ټولولو ورکړی دی.
الله تعالی فرمایي: {اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّکَ الَّذِي خَلَقَ خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ . اقْرَأْ وَرَبُّکَ الْأَکْرَمُ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ. عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ} سوره العلق: 1–5

۴- **دفقراو تنګدستی لامل؛** داسلامي امارت په مقابل کې خروج او سرغړونه دخلکو دفقر، تنګدستۍ او ډول ډول نورواجتماعي او اقتصادي مشکلاتو دزیاتوالي باعث ګرځي هغه فقر چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ورڅخه آمان غوښتلی دی او فرمایلي ئې دي: (اللهم إني أعوذبک من الفقر).

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته